محمد هارون خپل شعشعی


۱۶ نومبر ۲۰۱۱

## د
## علي محمد مُخلِص
## عرفاني فرهنګ
## د
## محمد هارون خپل شعشعي
## ليکنه او څېړنه
## ۲۳

۴۵- د اِجمال عالم : وګورئ د« عالَم او د هغه ډولونه » تر عنوان لاندي د جبروت عالَم

۴۶- د باطن عالم : وګورئ د« عالَم او د هغه ډولونه » ترسرليک لاندي د ملکوت عالم

۴۷- د برزخ عالم : وګورئ د« عالَم او د هغه ډولونه » ترسرليک لاندي د ملکوت عالم

۴۸- د بقاء عالم : وګورئ د« عالَم او د هغه ډولونه » ترسرليک لاندي د ملکوت عالم

۴۹- د احديت عالم : وګورئ د« عالَم او د هغه ډولونه » تر عنوان لاندي د لاهوت عالم

۵۰- د اروا عالم : وګورئ د« عالَم او دهغه ډولونه » تر عنوان لاندي د ملکوت عالم

۵۱- د استعداد عالم : وګورئ د « عالَم او د هغه ډولونه » تر عنوان لاندي د جبروت عالَم

۵۲- د اسرارو عالم : وګورئ د« عالَم او د هغه ډولونه » ترسرليک لاندي د ملکوت عالم

۵۳- د اقدس ذات عالم : وګورئ د« عالَم او د هغه ډولونه » تر سرليک لاندي د لاهوت عالم

۵۴- د الهياتو عالم : وګورئ د« عالَم او د هغه ډولونه » ترسرليک لاندي د ملکوت عالم

۵۵- د امر عالم : وګورئ د« عالَم او د هغه ډولونه » سرليک لاندي د ملکوت عالم

۵۶- د جانان عالم : وګورئ د« عالَم او د هغه ډولونه » تر عنوان لاندي د لاهوت عالم

۵۷- د جبروت عالَم : وګورئ عالم او د هغه ډولونه

۵۸- د جسمو عالم : وګورئ د« عالَم او د هغه ډولونه » تر سرليک لاندي د ناسوت عالم

۵۹- د حقیقتو عالم : وګورئ د« عالَم او د هغه ډولونه » تر سرلیک لاندي د جبروت عالَم

۶۰- د حواسو عالم : وګورئ د عالَم او د هغه ډولونه » تر عنوان لاندي د ناسوت عالم

۶۱- د حیوان بحر :

زموږ مفکر شاعر، علي محمد مخلص، په خپله عرفاني شاعرئ کي ځو ځایه د « حیوان بحر » یا « بحر حیوان » عرفاني - فلسفي اصطلاح کار کړې ده، چي د نورو عرفاني لیکوالو او شاعرانو په آثارو کي هم خورا زیاته تر سترګو کیږي . مخلص، له خپل فطري خوی او خصلت سره سم، په زیاترو غزلو کي د عرفان د پېچلو او غامضو مسألو تیوریک او علمي بنسټونه بیان کړي دي . په بله ژبه، دی اول د خپلو شعرو لوستونکي دیوې موضوع له عرفاني مانا او مفهوم سره اشنا کیي (کوي)؛ او بیا یې د همغي عرفاني مانا په رڼا کي د ژوندییو او په زړه پورو مثالو په وړاندي کولو سره ، بېلابېل اړخونه ور ښیي . هغه، په یوه غزله کي د خدای تعالی ذات د « حیوان بحر » په توګه یادیي؛ او داسي راپېژني :

دحق ذات بې مثله بحر بې پایــان دئ
په شپږ لوري یې حد نشته بېکران دئ
له هر چا سره محیط دئ په شپږ لوري
هم پکښي هم تر چوپېر « بحر حیوان » دئ
د هر چا ژوندون په ده دئ چي موجود دئ
دا محیط دریا د هر څیز جانِ جــان دئ

بل ځای د رب جلیل په هستي کي د « بحر حیوان » فلسفه داسي انځوریي :

بې پایان یې په هر لوري
هم په هر څیز کښي جریان یې!
د بدن حیات کي روح شوې!
ته حیات د کُل حیــوان یې!
حیوانات په تـا زنده دي
ته ژوندون د ِانس و جان یې!

مخلص، د حق تعالی نور د کایناتو پر مخ د ټولو مخلوقاتو د ژوند او ژواک « بحر حیوان » بولي، چي په واقعیت کي همغه د کایناتو مبدأ او منشأ ده . په دې بیتو کي د ده بیان وګورئ :

ستا نور ګورم هستي عالَم پر هست دئ
یې بې شک د کامل ژوند« بحرحیوان » ته!
پرورش د کُل عالَم کړې هم یې ژغورې!
کُل عالَم دي رعیت شه جهانبان ته!

په یوه بله غزله کي د « بحر حیوان » بې مثله ذات، دکایناتو په بې سر وپایه سمندر کي د ټولو ارواوو اصل او اساس ګڼي . د ده کلام دئ، چي وایي :

جهان تن ته یې ارواح یې!
ته ارواح د ارواحـان یې!

ارواحان د تا بېل شوي

ته دريابي بې پايـان يې!

په دې ډول، د « حيوان بحر » کټ مټ د « محيط بحر » په څېر هغه بې مثله، ناپايه، ابدي او ازلي هستي ده، چې شپېرو خواوو ته د کايناتو پر ټولو موجوداتو راڅرخېدلې ده؛ په هر موجود کې د ژوند او بقأ سا پو کې؛ او په خپل غوښت يې بيرته ژوند او اروا اخلي . په ګردوکايناتو کې د همدې بې ساري ذات واکمني چلېږي؛ او تر دې هستی دباندې بل هيڅ شی نسته . د « حيوان بحر » په عرفاني او فلسفي مفهوم کې د کايناتو له خالق سره د انسان ژور اړېکي بيان سوي دي . زموږ باطن بين عارف، علي محمد مخلص ، د حق تعالی په ناپايه بحر کې د انسان ژوند د يوه ماهي ياکب په شان داسي انځور کړئ دئ :

هم پکښې هم ترې چوپېره

دی ماهی هستي يې آب دئ

ماهی هر لوري چي ګرزي

و اوبو ته يې مـآب دئ

سړی هر لور ته چي ګرزي

پر هغه لور د حـق جناب دئ

مخلص، د حق تعالی د هستی په بې انتها بحر کې د انسان په نامه ناطق حيوان ته د هغه د ذات او جوهر په باب، دا ژور عرفاني بيان لري :

ز زنده حيات په يم يـې!

له دې غم ولـې بې غم يې!

ته ماهی د دغه يم شـوې!

هم پې هست هــــم پـې خُرم يې!

تمام ژواک دې په دا بــحر

هم پې ځای هم پې محـکم يې!

روح په دې درياب اوبـــه دي

که دې و پـېژاند آدم يـې !

څو دغه اوبه جـاري دي

پې زنده هم پې ملهم يـې!

چي قراري دا اوبــه شي

مات، شکست، خراب، عدم يې!

ته ځان روح ګڼه نادانـه!

په صورت سره صنم يې!

د روح اصل له دريـابه!

که ذات و . . . ۱يـې!

وروسته، انسان ته ځان پېژندني او عرفاني رسالت په لار کې داسي پيغام وړاندي کيي:

که له ذاته اشنـا نشې!

دځنګله تر لېوه کم يــي!

ته مظهر د کُل عالَم شــوي!

هم د دوو کونو عَلَم يي!

دا ستا ذات قديم دريــاب دئ

ته په ذات باقي قدم يــي!

روح صورت مثال حشم شــه

ته بادشاه د دي حشم يي !

انساني کميس دي واغســـت

ته بزرګ شوئ پــه کرم يي!

حق خپل ذات لره پيدا کـړی!

ته صاحب د خپل خدم يي!

واړه ستا دپاره و شــوه

ته عرفـان لره رقم يي!

که عرفان دي روزي نشي

لوند لرګی د جهنم يي!

شناخت به نه مومي بې پيــره

که په دا وينا محــرم يي!

د دانا خبره پنـد کړه!

که حيوان نــه يــي آدم يي!

مخلص وايي کامل پيــر کړه!

که تشنه د هستــی يم يي!

د اسلامي تصوف او عرفان له نظره، انسان د الهي ذات د جمال او جلال ځلانده هينداره ده . د انسان په وجود کې د لوی ښتن د بې ساري ذات ټول صفتونه نغښتي دي . انسان د پوهې او عقل په ارزښتناک زېور سينګار سوئ دئ . انسان د کايناتو په ګردو موجوداتو او مخلوقاتو کې د برترئ او غوره والي له امله د« اشرف المخلوق »، « ظل الله »، « خليفة الله » او داسي نورو په لوړو لقبو وياړل سوئ دئ .

الله سبحانه وتعالی په قرآن کريم کې د خپلو نورو مخلوقاتو په ډله کې انسان ته په ډېره لوړه سترګه کتلي دي؛ د مثال په توګه دبقرې دسورې په دېرشم آيت « ۲: ۳۰ » ( و اذ قال ربک للملايکة انی جاعل فی الارض خليفة )کې يې پر مځکه د خليفه پيدا کولو زېرئ ورکړئ دئ.د تين د سورې څلرم آيت ( ۹۵ : ۴) د الهي مخلوقاتو په ډله کې د انسان د ظاهري او باطني ښېګنو په اړه داسي لاربښوونه کيږي : « لقد خلقنا لانسان فی احسن تقويم » ياني په ريښتيا سره موږ انسان په ډېره ښه بڼه اوکالبوت کې پيدا کړ . د بني اسراييل ( اسرأ) د سورې په اويايم آيت ( ۱۷ : ۷۰) کې د انسان د شان او مقام په باره کې داسي راغلي دي : « و لقد کرمنابنی آدم . . . » ياني په ريښتيا سره موږ د آدم بچيانو ته ډېر پت او عزت ورکړئ دئ . دا ځکه چي د احزاب د سورې د دو اويايم آيت « ۳۳: ۷۲ » ( انا عرضنا الامانة علی السماوات و الارض و الجبال فابين ان يحملنا و اشفقن منها و حملها الانسان انه کان ظلوما جهولا) له روايت سره سم، انسان د هغه پېټي پورته کولو ته اوږه ورکړې ده، چي اسمانو،

مځکي او غرو يي له منلو ډډه کړي وه .  همدا مطلب د نامتو عارف شاعر ، حافظ شيرازی، په يوه بيت کي هم په دي بڼه بيان سوئ دئ :

آسمان بار امانت نتوانست کشيد

قرعهٔ فال بنام من ديوانه زدند

له بله پلوه، لکه څنګه چي په يوه نبوي حديث ( ان  الله خلق آدم علی صورته) کي راغلي دي، انسان خدای تعالی ته دونه ګران او ښاغلی دئ، چي د خلقت پر مهال يي په خپل صورت پيدا کړئ دئ . په قرآني نصوصو او نبوي احاديثو کي د انسان د ستروالي او لوړوالي په باب خورا ارزښتناکي او لوړي يادوني سوي دي .

د اسلامي عرفان وتلی او منلی لارښوود  -  مولانا جلال الدين بلخي رومي ( ۶۰۴  -  ۶۷۲هـ ق) په خپل ستر عرفاني اثر« مثنوي معنوي » کي وايي :

« گفت پيغمبر که حق فرموده است

من نگـنجم هيچ در بالا و پست

در زمين و آسمان و عرش نــيز

می نگـنجم اين يقين دان ای عزيز

در مؤمن بگنجم ای عــجب

گر مرا جويی در آن دلهاست طلب

پس به صورت عالَم اصـغر تــو يی

پس به معنی عالَم اکبــر تويی۲ »

د معرفت په اسرارو پوه عارف، علي محمد مخلص، هم په يوه غزله کي دانسان د لوی والي او عظمت په اړوند د فخر العالمين  -  حضرت محمد ( ص  )  و مبارکو احاديثو ته داسي  پام اړيي :

زړه حرم د مولا ياد دئ په حديث کښي

هر عـــارف چي په حرم د حق محرم شي

***

د مؤمن زړه مي تر عرش، کرسی وسيع دئ

د مؤمن په زړه کښي ځای بصير، سميع دئ

د حق ذات په آسمان، ځمکه کي ځای نه شه

د مؤمن په زړه کښي ځای شه دا بــديع دئ

مخلص، د الله تعالی په ټولو مخلوقاتو کي د انسان د لوړ او بي ساري مقام په باب  داسي وايي :

نور عالَم په مـثال ستوري

ته انسان په کښي آفتاب يي!

معرفت لره پيــدا شــوی!

بي خبر له دی خـطاب يي!

په عالَم کي يي بزرگ کـــړی!

د پرينتو سوئ محراب يي!

ته هستي د حق محراب کړه!

ژوندی شــوئ په دا آب يي!

د دي آب اصل و غــواړه!

دی درياب ته يي حُباب يي!

بل ځای، انسان د کثرت په ټوله عالَم کي د الله تعالی د داسي ممتاز او غوره سوي مخلوق په توګه يادیي، چي په وجود کي يي د لوی رب د جمال او جلال ګرده نخښي څرګندي دي :

د کثرت ګلونه رنګ په رنګ ظـــاهر شوه

د انسان په څېر د بل نشته زېبــا مخ

په صورت سيرت يي نشته په دا باغ کي

په دوو لاسو يي جوړ کړئ خود خدا مخ

د انسان صورت آيات دئ سر تر پــايه

د قدرت په قلم کښلئ دلربــا مخ

د نور مالومات دپاره و ګورئ : د محيط بحر، هستي او نيستي، زړه، روح، ذات او صفتونه او د « عالَم او د هغه ډولونه » تر عنوان لاندي بېلابېل عرفاني عالمونه .

لمنليکونه

**١ په خطي نسخه کي د دې ميسری دا برخه نه لوستله کيږي .**

**٢ بلخی، دورهٔ کامل مثنوی معنوی ، ١٣١.**

**۶٢- د خاوري عالم : وګورئ د« عالَم او د هغه ډولونه » تر عنوان لاندي د ملکوت عالم**

**۶٣- د خلګو عالم : وګورئ د« عالَم او د هغه ډولونه » ترسرليک لاندي د ناسوت عالم**

**۶۴- د خيال عالم : وګورئ د« عالَم او د هغه ډولونه » تر عنوان لاندي د ملکوت عالم**

**۶۵- د راز عالم : وګورئ د« عالَم او د هغه ډولونه » ترسرليک لاندي د ملکوت عالم**